AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپېڅلی
۲۰۲۶/۰۹/۲۳

# د «کندهار» مجلې کارګر مسؤل مدير

محمد نبي سلطاني د مرحوم عبيدالله زوی د حاجي عبدالرحمن لمسی او د سلطان محمد کړوسی، په ۱۳۶۴ لمريز کال د کندهار ولايت په لويه ويالهٔ( ۹ ناحيه) کې زېږېدلی دی.

سلطاني د کندهار ولايت په بېلا بيلو خصوصي مدرسو او مسجدونوکي غير رسمي ديني زده کړي او په۱۳۸۹ لمريز کال ئي د معارف وزارت د اسلامي تعليماتو د امتحان او ارزيابی کمېټې ته امتحان ورکړ، چې په ښو نومرو يې د بکلوريا ( دولسم ټولګي) سند تر لاسه کړ.

نوموړی په ۱۳۹۱ لمريز کال د کانکور په ازموينه کې د ګډون له لاري د کندهار پوهنتون تعليم او تربيې پوهنځي پښتو ادبياتوڅانګې ته کامياب او په ۱۳۹۵ لمريز کال له يادي څانګې څخه په غوره درجه فارغ سو.

ښاغلي سلطاني په کندهار، کابل او ننګر ولايتونو کې د ژورناليزم په بېلا بيلو لنډمهالو او اوږدمهالو کورسونو، ورکشاپونو او سيمينارونو کې هم ګډون کړی دی.

دی پر مورنۍ ژبه( پښتو) سربېره په دري او څه ناڅه په عربي او انګليسي ژبو هم پوهيږي.

ده له کوچنيوالي څخه له ژورناليزم او ادب سره مينه درلوده او هغه وخت چې لا له دولسم ټولګي څخه نه و فارغ سوی د هيواد په بيلابيلو مجلو، ورځپاڼو، اونيزو او راډيوګانو کې يې ادبي، ښوونيزي او ... مقالي او شعرونه خپرول.

ښاغلی سلطاني په ۱۳۸۸ لمريز کال اول وار په کندهار کې له تعليم الاسلام راډيو سره کار شروع کړی.

ښاغلي سلطاني په ياده راډيو کې اووه کاله بېلا بېلي دندي ( اداري مسؤل، د خبرونو وياند، د خبرونو پروډيوسر اود نشراتو مسؤل ) سرته رسولی دي.

ليکوال، شاعر او مطبوعاتي محمد نبي سلطاني په ۱۳۸۹ لمريز کال دتعليم الاسلام راډيو تر څنګ د (پکت) راډيو سره د (پولي پوري غاړي راډيويي خپرونو په جوړولو کې هم له کندهار څخه همکاري کوله، يادي راډيو د ډيورنډ فرضي کرښي دواړو غاړو (پښتنو) لپاره خپروني کولې.

سلطاني په ۱۳۹۵ لمريز کال په کندهار کې ديوی بلې اسلامي راډيو(تعليم القران )د نشراتو مدير وټاکل سو، چي هلته يې هم د بېلا بېلو اسلامي او ټولنيزو خپرونو په طرح کولو کې ښه وځليدی او په دې ترڅ کې يې په ننګرهار کې د (سباستوري) راډيو سره هم خبرېالي پيل کره

د ږغيزو رسنيو ترڅنګ په ۱۳۸۹ لمريز کال د تعليم الاسلام مجلې د کمپوز او ډيزاين د سمبالولو او همداسي په ۱۳۹۵ کال د نداء القران مجلې د کمپوز او ډيزاين د سمبالولو چاري تر سره کړي دي.

سلطاني په ۱۳۹۵ لمريز کال د ازاد رقابت له لاري (کندهار) تاريخي مجلې مسؤل مديريت ته بريالی سو، چي تراوسه يې دغه دندي ته په يوازي سره اوږه ورکړی ده.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

سلطاني په اوسمهال کي د رسنيو ارزښت په يوه ټولنه کي د سا په ډول اړين ګڼي او زياتوي، په کارده، چي رسنی په رښتيا سره هم د خلکو د روښنفکری اود دولت پر کارونو د څارپه بنه وکارول سي.

« د رسنيو له اغېز(مثبت يا منفي) څخه هيڅوک انکار نه سي ،ځکه په اوس وخت کي  به لږ  داسی کورونه وی، چي له رسنيو له تعقيب څخه دي خالي وي.

نن په ټوله نړۍ کي رسنی دخلکو رهبری کوي اوکولای سي چي چاروواکي، زور واکي، دولتي اوخصوصي اداري خپلو نيمګړتياوو ته متوجه کړي ترڅو هغوی خپل نيمګړي کارونو ته بشپړ  متوجه او بيا له سره غور باندي وکړي، نو پر  همدې اساس ويلای سم، چي رسنی د ټولني او فرهنګ ساه ده، د ټولني په جوړولو او ورانولو کي پراخه ونډه لري»

دده په خبرهد، رسنی هغه وخت په ټولنه کي د خلکو باور خپلوي، چي مسلک ته ژمن کسان پکښي په کار وګومارل سي.
 يوازي د نوم او شهرت لپاره رسنی تباهي ده.

« ژورناليست تاريخي، ايماني او وجداني رسالت لري، چي په يوه واحده ليکه کي درسنيو له منل سويو نورمونو سره سم پر  هغه لار  چي ملي ګټي پکښي نغښتي وي ګامونه واخلي اوله هغو امکاناتو څخه په ګټه اخيستنه چي په واک کي ئي لري په اوسينو پيچلو او سختو شرايطو کي دهيواد پالني حقانيت ثابت او خپل ايماني هيوادنی اوانساني رسالت سره ته ورسوي، د ټولني د وګړو د اخلاقو په جوړولو کي رغنده ګامونه پورته کي.»

سلطاني ټينګار کوي، چي  ژورناليست يوازي دخلکو د خبرولو مسئوليت نه لري، بلکي د پوهولو،اصلاح کولو او ويښولو مسئوليت ئي هم په غاړه دی،  نو پر  همدې اساس ورته لازمه ده چي د دغي وسيلي (ژورناليزم) د ښه استخدام او غوره کاروني له پاره داسي لاري چاري او پروګرامونه ولټوي، چي د ټولني حرکت ښې او مثبتي خواته متوجه کړي، د اسلامي اهدافو د تحقق او پلي کېدا پر لور ئي وهڅوي او خوځښت ورکړي.

د کندهار مجلي دغه مسؤل مدير ته د ښه مطبوعاتي کارونو له امله پرهغو ټولو رسنيو سربيره، چي ده ورسره کار کړی يوشمير نورو مدني او فرهنګي بنسټونو هم ستاينليکونه ورکړي دي.

سلطاني په  ۲۰۰۵ کال کي واده کړی، چي ثمره يې شپږ اولادونه درې (لونې) او درې (زامن ) دي.

۲۰۲۰ اپريل ۱۲
کندهار اطلاعات او کلتور رياست


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ